
# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر لومړۍ | ۶۳۸مه ګڼه


## خبره
۴ مخ

### آلیس ان مونرو


آلیس د نړۍ په تاریخ کې دیارلسمه ښځه ده چې د نوبل جایزه ګټي او هغه مهال ۸۲ کاله عمر لري. د نوبل اکاډمي وايي، هغه د داستان لیکلو په برخه کې خپل ځانګړی سبک لري، هغه ظرافت ته پام کوي، دقت لري او واقعیتونو ته له نږدې ګوري.

# د مذاکراتو ټکنی بهیر او تازه تورونه؛
## ارګ هغه تورونه رد کړي چې ګواکي ولسمشر په مذاکراتو کې خنډونه جوړوي




۵ مخ

### اشرف‌غني او ملګري يې څه ډول د سولې مخالفت کوي؟
۲ مخ

### خان ستېل؛ د صنعت ستره او بریالۍ تجربه
۲ مخ

### د افغانستان- ایران اړیکې او د «اوبو سیاست»
۳ مخ

**کرنې وزارت:**
## روان کال په ټول هېواد کې د کبانو د روزنې ۳۵۰ فارمونه جوړ شوي



کرنې وزارت وايي چې روان کال په افغانستان کې د کبانو د روزنې ۳۵۰ نوي فارمونه جوړ شوي دي.
د یاد وزارت ویاند اکبر رستمي وايي، چې دغه فارمونه د کرنې وزارت او خصوصي سکټور له لارې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې جوړ شوي دي.
نوموړی وايي، د دغو ۳۵۰ فارمونو ترڅنګ د بنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې د کب روزنې ۱۰۰ نوي فارمونه چې پکې د کبانو د بچیو دوه تولیدي فارمونه هم شامل دي، په کونړ، بلخ، بغلان، لغمان، کندهار، خوست او هرات ولایتونو کې جوړ کړي دي. د هغه په خبره، دغه فارمونه د کبانو د ۲.۷ میلیونه بچیانو د تولید وړتیا او تکثیري فارمونه يې د کبانو د دوه میلیونه او ۴۰۰ زره بچیانو د تکثیر وړتیا لري.
رستمي وايي چې سږکال د کبانو د تولید کچه د تېرکال په پرتله ۱۵ سوه ټنه زیاته شوې ده.

**امریکا:**
## ایران په بهر کې د خپل نفوذ د زیاتولو لپاره زرګونه افغان جنګیالي ګومارلي

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د ایران سپاه پاسداران په بهر کې د دغه هېواد د نفوذ زیاتولو لپاره افغان او نور بهرني وسله وال ګوماري.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په خپله ټویټرپاڼه کې لیکلي: «د ایران سپاه د افغان شیعه‌ګانو فاطمیون فرقه او د پاکستاني شیعه ګانو زینبیون لوا په سیمه کې او بیا په تېره سوریه کې له جګړې سره د مبارزې لپاره جوړه کړې ده.»
په دغو ټوېټونو کې ویل شوي چې امریکا په ۲۰۱۹ ز کال کې پر دواړو ډلو بندیزونه ولګول.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت زیاته کړې، له ترهګرۍ سره د مبارزې د مرکز (ویسټ پاینټ) د معلوماتو له مخې، د فاطمیون فرقې کسان له لس تر دوولس زرو پورې رسېږي.
سرچینې زیاته کړې: «په ایران کې د فاطمیون فرقې یوه چارواکي د ۲۰۱۸ ز کال په جنورۍ کې ویلي وو چې له دوو زرو ډېر وسله وال يې په سوریه کې وژل شوي دي.»
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وايي، د انساني حقونو څارډلې په ۲۰۱۸ ز کال د ایران له خوا په فاطمیون کې د ماشومو سرتېرو ګومارل ثبت او وغندل او هم يې د سوریې په جګړه کې د ۱۴ کلنو افغانانو د وژلو سندونه بربنډ کړل.
د یادونې ده، چې افغان حکومت تر دې مخکې په دې اړه غبرګون ښودلی، خو د امریکا د دغه تازه څرګندونو په اړه يې څه نه دي ویلي.

## د ملي امنیت رییس په ګډون، شپږو نوماند وزیرانو له ولسي جرګې د باور رایې تر لاسه کړې




۵ مخ

**وزارت صحت عامه:**
## نمونه‌گیری ویروس کرونا در تمام شفاخانه‌های دولتی انجام می‌شود



وزارت صحت عامه افغانستان می گوید در تمامی شفاخانه‌های دولتی در کابل و پنج زون کشور از این پس نمونه‌گیری ویروس کرونا انجام می‌شود.
خالد احدی رئیس بررسی از تطبیق قوانین وزارت صحت عامه می‌گوید ۱۸ شفاخانه دولتی و ۲۳ شفاخانه خصوصی در ولایت کابل نمونه‌گیری بیماری کووید-۱۹ را انجام می‌دهند و تیم‌های سیار نیز در چارچوب همین شفاخانه‌های دولتی فعالیت خواهند کرد.
به گفته این وزارت، از لابراتوارهای دولتی؛ چهار لابراتوار آزمایش این‌ویروس در کابل، شش مرکز در ولایت‌های هرات، ننگرهار، کندهار، بلخ، کندز، پکتیا و دو لابراتور نیز در بندر توغندی ولایت هرات و آقینه ولایت فاریاب فعالیت دارند.
خالد احدی رئیس بررسی از تطبیق قوانین وزارت صحت عامه گفت: «تا کنون به کمبود تست مواجه نشدیم و امیدوار استیم در موج دوم این کمبود به وجود نیاید. تنها در بخش آکسیجن در ولایت هرات کمبود داشتیم که این مشکل حل گردید اما واقعات ویروس کرونا در ولایت هرات هر روز بیشتر شده می‌رود.»
این در حالی است که پیش از این در موج اول همه‌گیری ویروس کرونا بیشتر شکایت‌های بیماران از کمبود مواد لابراتوری برای آزمایش این ویروس و تاخیر در اعلام آزمایش‌های‌شان بود.
حالا در کنار شفاخانه‌های دولتی، مراکز درمان خصوصی با اخذ پول آزمایش کرونا انجام می‌دهند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

سرلیکنه

## اشرفغني او ملگري يې څه ډول د سولې مخالفت کوي؟

پرون نیویارک ټایمز ورځپاڼې لیکلي وو چې اشرفغني او ملگري يې د سولې په لاره کې خنډونه جوړوي. ورځپاڼه وايي چې په دوحه کې د افغان حکومت د پلاوي او طالبانو ترمنځ په کرښلاره توافق شوی، خو دا توافق د ولسمشر غني له مخالفت سره مخ شوی دی. اشرفغني او ملگري يې پرله پسې هڅې کوي چې د سولې په لاره کې خنډونه جوړ کړي او تر هغو دا پروسه وځنډوي، چې بایډن واک اخلي.

څو ورځې وړاندې په دوحه کې د حکومت او طالبانو ترمنځ پر کړنلاره توافق وشو، وروسته د دواړو لورو په عمومي غونډه کې هم دا کړنلاره نهايي شوه او په ټيټه کچه لاسلیک یا په نښه شوه. وروسته د دې هوکړې د نهايي کېدو په اړه کوربه هېواد هم خبر شو او یوه کاپي یې قطري چارواکو ته وسپارل شوه. دا پرمختگ د جینوا تر کنفرانس وړاندې وشو او حکومت هم داسې ښودله چې پرمختگ شوی، څو د جینوا کنفرانس ته وښيي چې حکومت د سولې په پروسه کې انعطاف ښيي، خو همدا چې کنفرانس تېر شو، ارگ ببرته پخواني حالت ته ور وگرځېد او پر کړنلاره شوې هوکړه يې رد کړه. دا چاره آن د دې سبب شوه چې د مذاکراتي ټيم په منځ کې اختلاف پیدا شي او خبره يې تر دې ورسیده چې یوه غړي يې په علني ډول د اشرفغني دريځ رد کړ او ويې ویل چې دوی پر کړنلاره هوکړه کړې ده.

ارگ په ښکاره نه وايي چې د سولې مخالف دی، چارواکي بيا بيا وايي چې دوی سوله غواړي او د سولې لپاره جدي اراده لري، خو ستونزه دا ده چې د حکومت دريځ د سولې مخه نیسي. د اشرفغني او ملگرو دريځ يې دا دی چې اشرفغني مشروع ولسمشر دی او پينځه کاله بايد په واک کې وي. دوی واضح وايي چې طالبان دې راشي، وسله دې پر ځمکه کېږدي، جمهوريت او د تېرو شلو کلونو لاسته راوړنې بايد ومني، اساسي قانون دې ومني، د یوه سیاسي گوند په توگه دې کار پیل کړي، که اړتيا وه چې په اساسي قانون کې بدلون راشي، هغه به هم خپله د همدغه قانون پر اساس بدلېږي. دوی وايي چې طالبان دې بيا په راتلونکو ټاکنو کې برخه واخلي او که يې ټاکنې وگټلې، واک دې واخلي او که نه، خپل سیاسي گوند دې وچلوي.

د ارگ دا دريځ په واضح ډول د سولې مخالف دی. په دې ډول سوله هېڅ ممکنه نه ده، دا د جگړې د دوام مانا لري. نه یوازې طالبان، بلکې آن یوه کمزوري ډله به هم په دې شرايطو له اشرفغني او ملگرو سره يې سولې ته زړه ښه نه کړي. اوس چې دوی په خوله سوله غواړي، یا ځینې واړه گامونه یادوي، دا یوازې د خلکو په سترگو کې د خاورې شیندلو لپاره دي. په واقعیت کې اشرفغني او ملگري يې د خپل واک لپاره د سولې پر ضد ولاړ دي. له هرې لارې کار اخلي چې د سولې مخالفت وکړي او د خپل واک دوام ته لاره برابره کړي.

# خان سټیل؛
## د صنعت ستره او بریالۍ تجربه

لیکنه: شمس غرني




ښايي کله مو د خان سټیل نوم اورېدلی وي، ځکه د افغانستان په صنعت کې اوس يو له برياليو او لويو نومونو دی. بریالیتوب يې دا دی چې په لومړي ځل يې په افغانستان کې د گول سیخ تر ټولو سټنډرډ تولیدات وړاندې کړل، چې د سيمې او نړۍ له سټنډرډ فابریکو سره يې سيالي وکړه. لوی والی يې دا دی چې د گول سیخ ۳۰ تر ۳۵ سلنه کورنۍ اړتيا یوازې همدا فابریکه پوره کوي.

خبره د سوداگرۍ او صنعت ده، که افغانستان په تیرو شلو کلونو کې دومره تمرکز چې پر سوداگرۍ کړی، پر صنعت کړی وای، ښايي نن مو هر کنفرانس ته د مرستې سترگې نه وای نیولې.

دلایل يې واضح دي او هغه دا چې تر ۲۰۰۱ کال وروسته په لومړیو کې چا ډېر د صنعتي افغانستان فکر نه کاوه، ځکه د نړۍ مرسته شوې پرېمانه پیسې تر هر چا رسیدلې؛ خو کله چې وروسته حالات په سختیدو شول، بيا د امنيت، ځمکې، برېښنا او نورو ستونزو ته د پانگوالو ور پام شو.

ستونزې لا هم ډېرې دي، له برېښنا او ځمکې نیولې، تر ناسالم رقابت، د خامو موادو کمښت او حریصو گاونډیانو پورې؛ خو څنگه خان سټیل په داسې یو مارکیټ کې ځان ته ځای وموند؟ په دې لیکنه کې يې فرصتونه او ننگونې یادوو.

**ننگونې:**

د ځمکې نشتوالی، برېښنا، امنيت، سړکونه او د صنعتي پارکونو نورې اسانتياوې خو هغه مسایل دي، چې د هر صنعت لپاره مهم دي؛ خو موږ دلته د اوسپنې په سکټور بحث کوو.

**• د مسلکي کارکوونکو نشتوالی**

کله چې په ۲۰۱۵ کال کې د خان سټیل د بنسټ ډبره کېښودل شوه، تر ټولو مهم فکر دا و، چې فابريکه بايد مسلکي او تخنیکي کارکوونکي پیدا کړي.

ترکي، هندي او ايراني انجنيران چې د ذوب نوې ټکنالوژي يې خان سټیل کې انسټال کوله، یو مهم ماموريت يې دا و چې هر بهرنی انجنیر بايد دوه افغان مرستیالان ولري او کار ور زده کړي.

دا چاره بریالۍ تر سره شوه او اوس د فابریکې پنځه نوي سلنه چارې د افغان کارکوونکو په لاس کې دي، په داسې حال کې چې لس کاله وړاندې په ټول افغانستان کې د اوسپنې د ذوب دوه متخصصین هم نه موندل کیدل.

• د بهرنيو کارگرانو راوستل:

افغانستان ته د بهرنيو مسلکي کارگرانو راوستل هم اسانه نه ده، له يو لوري بهرني کارگران افغانستان ته د راتلو لپاره زړه نه ښه کوي او بل پلو بیروکراتیکه پروسه لويه ننگونه ده.

**• خام مواد:**

د خان سټیل په لنډمهاله ستراتیژۍ کې د تولید خام مواد داغمه جات دي، چې ریسایکل کېږي او بيرته ورسره نور کیمیاوي عناصر گډېږي یا تري کمېږي او بيا سیخ ترې جوړېږي.

خو د افغانستان لويه برخه پخواني داغمه جات ټول پاکستان ته قاچاق شوي وو، په کور د ننه د داغمه جاتو منابع خورا کم وو.

خان سټیل غږ پورته کړ چې په هیواد کې شته داغمه جات بايد نور له هیواده بهر قاچاق نه شي؛ خو قاچاق کوونکو ته پیسې مهمې وې، بالاخره په مارکیټ کې د داغمه اوسپنې بیه دومره لوړه شوه، چې اوس يې څوک د بیې په خاطر پاکستان ته نه وړي.

**• د قاچاق ستونزه**

له افغانستانه کلونه کېږي چې داغمه اوسپنه پاکستان ته قاچاق کېږي او هغه مواد چې له کلونو راهیسې په افغانستان کې پراته وو، لويه برخه يې پاکستان ته ولاړل.

دا بهير لا اوس هم نه دی دربدلی او له سپین بولدک او ځینو نورو لارو داغمه پاکستان ته قاچاق کېږي.

د خامو موادو حللاره تر پايه داغمه جات نه شي کیدای، نو د تمويل لپاره یوازینۍ لار د اوسپنې پر معدن پانگونه ده، چې لټه او چارې يې د اوس لپاره د خان سټیل له لوري روانې دي.

**• سخت رقابت**

افغانستان مصرفي مارکیټ دی، چې ځینو گاونډیو ته ترې هر کال میلیاردونه ډالر ورځي، ځکه نو ډمپینگ تگلارې د افغانستان په مقابل کې د هر گاونډي لومړیتوب دي.

زموږ ځینې گاونډي هیوادونه همدا اوس کله افغانستان ته په نیمه بیه سیخ را استوي، کله يې په قاچاق را لیږي او کله يې بيا په هر سوداگر اخیستل په یو ډول اجباري کوي.

همدا اوس هره ورځ لسگونه ټیلر داسې قاچاقي گول سیخ چې نه محصول شوی او نه هم له دولتي گمرکونو تیر شوی، د افغانستان بازارونو ته په پټه راځي.

د ډمپینگ یوه بېلگه غواړو دلته یاده کړو: ایران د خپلو فابریکو في ټن سیخ پخوا افغانستان ته په شاوخوا ۷۰۰ ډالرو ورکاوه، دا بیه يې ورو ورو را ټيټه کړه ان تر ۴۲۰ ډالرو يې في ټن ورسوله؛ خو هغه اوسپنه چې همدا سیخ ترې جوړېږي او د شمش په بڼه له فابریکې ایستل کیدای شي، دوی ټن په ۴۵۰ ډالر هم بیه کوله، یانې تر سیخ يې اوسپنه چې څو نورې پروسې هم بايد پرې طی شي، قیمته کړه، ځکه موخه دا وه چې افغانستان ته بايد خام مواد ولاړ نه شي.

**• برېښنا**

افغانستان په ټوله کې د برېښنا له کمښت سره مخ دی؛ خو صنعتي برېښنا بيا داسې اړتيا ده، چې په نشتوالی يې سلگونه میلیونه ډالر ضایع کېږي او زرگونه کسان وزگارېږي.

د اوسپنې ذوب زياتې برېښنا ته هم اړتيا لري، نو ځکه دا ستونزه لا هم پر ځای ده. ستونزې خورا ډېرې دي؛ خو د ستونزو د حل لپاره څه وشول:

**۱- پیاوړې مدیریت**

د لویو کمپنیو مدیریت لويې تجربې، لويه حوصلې او لوی فکر غواړي، ځکه داسې توليدي کمپنۍ چې شاوخوا ٦۰۰ کسان په کې مستقیم کار وکړي، مدیریت يې له ستونزو تش نه وي.

خو د خان سټیل په مدیریتي برخه کې څه هم په لومړيو کې ځینې تشې وې؛ خو د وخت په تېرېدو پوره او د یوې منظمې ستراتیژۍ له مخې يې چارې عیارې شوې.

**۲- کیفیت**

افغانستان د اوسپنې د تولید ډېرې فابریکې پخوا لرلې؛ خو داسې چې د کیفیت له پلوه له گاونډیو او سیمه ییزو هیوادونو سره رقابت وکولی شي، نه تر سترگو کېدې، د خان سټیل په فعالیت سره دا تشه ډکه شوه او په لومړي ځل افغانستان په کور د ننه هغه سیخ تولید کړ، چې یوه امریکايي، اروپايي یا د سیمې د هیوادونو هند او ازبکستان فابریکې يې تولیدولی شي.

دې کار د خان سټیل له شهرت سره ډېره مرسته کړې.

**۳- بیه**

کله چې په افغانستان کې د ساختمان سکټور چارې زیاتې شوې، په اوج کې يې یو ټن سټنډرډ گول سیخ په خورا لوړه بیه پلورل کیده.

دا سیخ هم یوازې څو انحصاري شرکتونو درلود او بیه يې هم په خپل زړه وه، ځکه بهرنیو کمپنیو د پاکستان او ایران گول سیخ په خپلو پروژو کې نه کاراوه او دلیل يې بې کیفیتي وه، نو یوازینی انتخاب همغه انحصاري شرکتونه وو.

خو په نړیوال مارکیټ کې د گول سیخ بیه د هغه قیمت نږدې نیمايي وه چې په افغانستان کې پلورل کیده. کله چې خان سټیل تولیدات پیل کړل او لسگونه کورنیو او بهرنیو ادارو تایید کړل، چې تولیدات يې تر هغه انحصاري شرکتونو ښه دي، چې د سیخ مارکیټ يې نیولی و، نو د سیخ بیې په را ټیټېدو شوې.

خان سټیل په لومړي ځل په افغانستان کې له نړیوال مارکیټ سره سم معیاري بیه رایجه کړه، که څه هم ستونزمنه وه چې د گاونډیو هیوادونو داسې یو ستر مارکیټ او گټه د دومره په اسانۍ ودرول شي؛ خو خان سټیل د خپلې گټې پر ځای د هیواد گټه مهمه وبلله.

**۴- د مشتریانو رضایت**

په هره سوداگرۍ کې د مشتري رضایت تر ټولو مهم اصل دی، کله چې خان سټیل لومړی تولیدات پیل کړل، د مشتریانو نظریاتو اورېدو ته يې ځانگړې ارزښت ورکړ.

هر هغه چا چې په مارکیټ کې گول سیخ ته اړتيا درلوده، نظریات يې اخیستل کیدل او د هغوی نظریات د تولید په پروسه کې شاملېدل.

د هر مشتري د اړتيا او فرمايش په اساس ټول موارد پوره کیدل، چې له همدې امله اوس د افغانستان په تر ټولو مهمو، لويو او سترو پروژو کې د خان سټیل تولیدات کارېږي.

د هلمند کجکي بند، د افغانستان ستر اداري کمپلکس او ورته نورې لسگونه پروژې شته، چې په لومړي ځل په کې په کور د ننه تولید شوی سټنډرډ سیخ کارېږي.

**۵- پاک چاپیریال**

په صنعت کې د هوا ککړتیا نړیوال بحث دی؛ خو دا چې کله د خان سټیل له نامه سره د معیاري او سټنډرډ فابریکې خبره کېږي، نو چاپیریال ته پام يې هم په همغه سټنډرډ برابر دی.

د هوا ککړتیا د مخنیوي لپاره د فلټر هغه پیاوړی سیستم لگول شوی، چې دې (ECC) سرټیفیکېټ لري او د سیمې په هیوادونو کې يې ساری نشته.

د دغه سیستم په مرسته د فابریکې د ټولو برخو په ځانگړي ډول د ذوب یا هیټ د برخې تولید شوی لوگی په اتومات بڼه تصفیه او کاربن يې په ځانگړو خريطو کې اتومات ټولېږي.

دا سیستم په افغانستان کې تر اوسه هیڅ یو تولیدي ادرس نه لري، نو ځکه ویلی شو چې خان سټیل کولی شي دا بریالۍ تجربه له نورو فابریکو سره هم شریکه کړي.

دا سیستم په یو ډول پانگونه هم ده، ځکه هغه لوگی چې تصفیه کېږي او په ځانگړو خريطو کې ټولېږي، بیرته مارکیټ لري او پلورل کېږي، نو حکومت بايد د لوگي د تصفیې داسې سیستم چې نتیجه يې ملموسه وي او یوازې نمایشي نه وي، پر ټولو صنعتي فابریکو اجباري کړي.

چاپیریال یوازې د یوه شخص او یوه نسل حق نه دی، په دې کې راتلونکي نسلونه او ټول ملت حق لري، نو بايد د هر چا لپاره يې پاک ساتل لومړيتوب وي.

**٦- د کارکوونکو خوندیتوب**

په کاري مارکیټ کې د کارکوونکي خوندیتوب او روغتیا بايد تر هر څه لومړیتوب وي، چې د همدې فورمول پر بنسټ خان سټیل د کیفیت، چاپیریال او مدیریت سربېره د سټنډرډ له نړیوال سازمان څخه د کارکوونکو د خوندیتوب سرټیفیکېټ هم تر لاسه کړی دی.

**۷- راتلونکی**

له صنعت پرته د یوه هیواد د پر ځان بسیا کیدو فکر ستونزمن دی، ځکه نو دا اراده خان سټیل هم لري، چې د فابریکې پر لا پراختیا نوره پانگونه هم وکړي.

په ۲۰۱۷ کال کې د خان سټیل یوازې یوه فاز تولید درلود؛ خو په ۲۰۱۸ کال کې د دویم فاز بنسټ کېښودل شو، چې په ۲۰۱۹ کال کې يې عملا تولید پیل او تولیدي ظرفيت يې په دوه کاري شفټونو کې ۵۰۰ ټنو ته ورسید؛ خو د برېښنا او خامو موادو د نشتوالي له امله د خپل ظرفیت تر نیمايي هم لږه برخه تولید کېږي.

راتلونکی پلان دا دی چې فابریکه بايد لا وسعت پیدا کړي، د گول سیخ تر څنگ د گاډرو تولید پیل شي او ورپسې د نورو اوسپنیزو اړتیاوو د پوره کیدو لارې هوارې شي.

تر څنگ يې د خامو موادو د ستونزې د حل لپاره له حکومت او اړوندو مراجعو سره مشترک کار وشي، څو د اوسپنې پر یوه معدن پانگونه وشي او استخراج ته چمتو شي.

که د حکومت له لوري اسانتیاوې پر وخت برابرې شي، هیله دا ده چې له یوه بهرني تجربه لرونکي مسلکي شرکت سره په گډه په راتلونکو پنځو کلونو کې د اوسپنې د کان عملي استخراج به پیل شي.

# د افغانستان- ایران اړیکې او د «اوبو سیاست»

حکمت الله ځلاند

**درېیمه برخه:**
**د ۱۹۷۳ کال تړون او ایران ته د ورتلونکو اوبو کچه**

د ۱۹۷۳ کال تړون له یوې خوا د دواړو هېوادونو د لومړیو وزیرانو له لوري لاسلیک شوی او قانوني پړاوونه یې بشپړ شوي او له بلې خوا د دغه تړون د لسمې مادې له مخې، دواړو لورو د یوه دایمي تړون په توگه هم منلی او د هر ډول وضعیت لپاره وړاندوینې لري؛ نو له همدې کبله دا یو معتبر تړون بلل کېږي.
دا تړون یوه مقدمه او ۱۲ مادې لري. د تړون د دویمې مادې له مخې، افغانستان په اوسط ډول په یوه ثانیه کې ۲۲ متره مکعب اوبه ایران ته ورکوي؛ خو په تړون کې افغانستان د ښه گاونډیتوب په نیت ۲۶ متره مکعب اوبه دغه هېواد ته منلې دي، چې په کلني ډول ۸۲۰ میلیون متر مکعب اوبه کېږي او ان که افغانستان وغواړي ۴ متر مکعب اوبه ببرته گرځولی هم شي. د تړون د پنځمې مادې له مخې، افغانستان به ایران د هلمند سیند له اوبو څخه په بشپړ ډول نه محروموي؛ خو په ورته وخت کې تړون دا هم وایي چې ایران له ټاکل شوو اوبو د زیاتو اوبو په تړاو د هېڅ ډول ادعا حق نه لري او افغانستان چې څه ډول غواړي زیاتې اوبه هغسې کارولی شي.
د افغانستان او ایران تر منځ شوي تړون د ځلورمې مادې له مخې، په کومو کلونو کې چې د وچکالیو له کبله تر عادي کلونو د سیند اوبه کمې وي، د ایران سهم به هم کمېږي. افغان چارواکي وایي چې په عادي کلونو کې د ایران ونډه یو پر اته ده؛ خو په وچو او غیر نورمالو کلونو کې یو پر دیارلس ته راټیټېږي. خو دا چې ایا ایران ته له دغه تړون سره سمې اوبه رسېږي او که نه؟ هغه پوښتنه ده چې د دقیق ځواب نشتون یې له ایران سره د گډو اوبو مسئله پېچلې کړې ده. د دې پوښتنې د ځواب لپاره مو شته څېړنیز او رسنیز مواد او راپورونه څېړلي او د افغان چارواکو څرگندونو او مرکو ته مو مراجعه کړې ده. له دغې مطالعې مو لاندې دوې پایلې تر لاسه کړې دي:
لومړی: په رسنیزه او سیاسي کچه ایران ادعا لري چې افغانستان دغه هېواد ته د ۱۹۷۳ کال په تړون کې له مشخص شوي حق سره سم اوبه نه ورپرېږدي او له همدې کبله وخت ناوخت پر افغانستان فشارونه واردوي. ایراني چارواکي وایي، په افغانستان کې د ډېرو بندونو جوړول او د اوبو مسیر بدلول د دې لامل شوي، چې سیستان ته اوبه ونه رسېږي، کوم څه چې د هامون د وچېدو لامل شوي او په دغه هېواد کې یې اقتصادي او چاپېریالي ستونزې راټوکولې دي؛ خو افغان لوری بیا دا ادعا نه مني او وايي، ایران ته د هلمند سیند د اوبو په ورتگ هېڅ خنډ نشته او افغانستان د اوړدو جگړو له کبله نه دی توانېدلی چې د دغه سیند له اوبو سمه گټه واخلي. د افغان چارواکو په وینا، افغانستان د دغه تړون له لاسلیک کولو وروسته تر اوسه هېڅ داسې بند نه دی جوړ کړی، چې ایران ته د هلمند د اوبو په ورتگ کې کموالی راولي. افغان لوری وايي، د اوبو کچه له کجکي بند سره نږدې د دهراوود اوبو پېژندنې د دستگاه په وسیله معلومېږي او نورمال او غیرنورمال کلونه تشخیصېږي او ایران هر کال په تړون کې مشخصې شوې اوبه تر لاسه کوي. افغان چارواکي د اوبو د دقیقې کچې له وړاندې کولو پرته ادعا لري، چې ایران په تېرو ځلور نیمو لسیزو کې په افغانستان کې د گډوډیو او د اوبو د نه مدیریت له کبله، په تړون کې تر مشخصې شوې کچې څو چنده زیاتې اوبه تر لاسه کړې دي. په دې تړاو د ځینو راپورونو له مخې، ایران ته په کلني ډول لږ تر لږه ۱۸۰۰ میلیون متره مکعب اوبه ورکړل شوې دي. حتی رویټرز د ۲۰۱۸ کال په جولای کې د یوه اړوند افغان چارواکي له خولې لیکلي، چې په افغانستان کې له وچکالۍ سره سره په تېر یوه کال کې ایران د هلمند له اوبو درې میلیارده متر مکعب اوبه تر لاسه کړې دي.
دویم: په بل اړخ کې څېړنې بیا ښیي، چې ایران ته د ورتلونکو اوبو کچه نه اندازه کېږي او د هغو اوبو د کچې معلومولو لپاره، چې له هلمند سیند څخه ایران ته بهېږي، دا مهال کوم سیستم او د موادو راټولولو بهیر نشته؛ ځکه په ۱۹۷۰ کلونو کې د امریکا د حکومت له لوري جوړ شوی سیستم د پخواني شوروي د اشغال پر مهال ویجاړ شو.
د څېړنیزو موادو له مخې، د هلمند سیند د اوبو اندازه کولو سیستم د ۱۹۴۰مې لسیزې په منځ کلونو کې جوړ شو او د ۱۹۷۰مې لسیزې تر وروستیو پورې د اوبو اندازه کولو د سایټونو شمېر هم په زیاتېدو و. تر ۱۹۷۸ کال پورې کابو ۱۶۰ ځایه د اوبو د اندازه کولو شبکه موجوده وه؛ خو په ۱۹۷۹ کال کې پر افغانستان د شوروي اتحاد له یرغل وروسته د دغو اوبو د اندازه کولو بهیر ودرېد او د ۱۹۸۰ کال له سپټمبر را وروسته یې په اړه مواد او معلومات نه دي راټول شوي. یو ځل په ۲۰۰۵ کال کې درې مخکېنې سټېشنونه ورغول شول او وروسته هم تر یوه برېده کار پرې وشو؛ خو بیا هم د اوبو د جریان او کچې په اړه دقیق معلومات نه دي راټول شوي او د تېرو نږدې ځلورو لسیزو مواد نشته. که څه هم تر ۲۰۱۴ کال پورې د اوبو اندازه کولو څو نورې دستگاوې هم ورغول شوې، خو د ناامنیو له کبله د موادو راټولولو تر کچې ونه رسېدې. په ځانگړې توگه له ایران سره پر پوله دوه سټېشنونه فعال شول؛ خو دا بیا له ایران سره همغږي شوي نه دي او له لارې یې د راټولو شوو موادو په اړه هم معلومات نشته.
له ۱۹۸۰ کال وړاندې مواد ښیي چې ایران په تړون کې له مشخصې شوې کچې زیاتې اوبه تر لاسه کړې او له همدې کبله ویل کېږي، چې په ۱۹۸۴ کال کې افغان حکومت یو څېړنیز راپور ایراني لوري ته سپارلی، چې له مخې یې له تړون څخه د ایران سرغړونې په ښه شوې او ښیي چې ایران ته هر کال په اوسط ډول په هره ثانیه کې ۶۳ متر مکعب اوبه ورکړل شوې دي؛ خو له دغې نېټې وروسته کره مواد نشته او دواړه لوري د دغو اوبو د کچې په اړه داسې شمېرې وړاندې کوي، چې له یو بل سره خورا زیات توپیر لري.
په بل اړخ کې د ایراني څېړونکو ځینې څېړنې ښیي، چې له ۱۹۴۰ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې د وچکالیو له کبله د هلمند سیند په کلني جریان کې جدي بدلون نه دی راغلی. د بېلگې په توگه، له ۱۹۸۳ تر ۲۰۱۲ موده کې چې وچکالي هم پکې زیاته وه، د دغه سیند د اوبو اوسط کلنی جریان ۵۸۵۸ میلیون مترمکعب و، حال دا چې نورمال کال په تړون کې ۵۶۶۱ میلیون متر مکعب ښودل شوی دی. په دې توگه افغانستان د وچکالۍ له کبله د اوبو د کمښت ادعا نه شي کولی.
په ټولیز ډول دواړه لوري خپلې ادعاوې لري؛ خو موږ داسې کره معلومات تر لاسه نه شو کړای، چې وښیي له ۱۹۸۰ کال وروسته موده کې په کلني ډول ایران ته څومره اوبه ورکړل شوې دي او دا هغه ستونزه ده، چې له ایران سره د گډو اوبو قضیه یې لا ډېره پېچلې کړې او جنجالي کړې ده.

**درېیمه برخه؛ د ایران اندېښنې**
**الف: په ایران کې د اوبو کمښت او د هامون وچېدل**

په ټوله کې ایران هم د وچکالۍ ځپلو هېوادونو په کتار کې دی او اوسنۍ وچکالي یې په تېرو ۵۰ کلونو کې مخینه نه لري. له افغانستان سره د اوبو په مسئله کې د ایران تر ټولو ستره اندېښنه د هامون د وچېدو له کبله په دغه هېواد کې راټوکېدونکې ستونزې دي. د هامون ستر ډنډ د ایران په سیستان او بلوچستان ولایت کې پروت دی او له دریو کوچنیو ډنډونو یا تالابونو جوړ دی (پوزک، سابوري او هلمند هامونونه). د هلمند سیند اوبه لومړی پوزک هامون ته توییږي، چې د افغانستان او ایران تر منځ گډ دی او بیا په ترتیب سره د ایران- افغانستان پر پوله پراته سابوري او ورپسې د ایران په خاوره کې پراته هلمند هامون ته ځي. د اوبو د زیاتوالي پر مهال درې واړه سره یو ځای کېږي او د افغانستان او ایران تر منځ د هامون گډ تالاب جوړوي. د ډکېدو پر مهال ۵۶۶۰ کیلومتره مربع مساحت لري، چې ۳۸۲۰ یې د ایران اړوند او پاتې د افغانستان اړوند دی. په دې توگه افغانستان او ایران د هلمند او هریرود-مرغاب سیندونو تر څنگ، په سیستان حوزه (هامونونو) کې هم شریک دي.
هامون ته ډېره برخه اوبه له هلمند سیند څخه ورځي، چې له کبله یې د وچکالۍ په کلونو کې تل د افغانستان او ایران د گډو اوبو پر سر شخړې موجودې وې او اوس هم چې هامون د اوبو له کمښت سره مخ دی، ایران پر افغانستان د فشارونو واردولو هڅې کوي. هامون له ۱۹۹۰ کال را وروسته د اوبو د کمښت له بحران سره مخ شو، ان تر دې چې په ۲۰۰۴ کال کې یې سطحي اوبه تر ډېره ختمې شوې او دغه بحران نور هم جدي شو. په ټولیز ډول اوسمهال هم هامون ته د هلمند سیند اوبه ورځي او په ځینو برخو کې یې اوبه شته؛ خو ایرانی لوری یې په دغو اوبو کې له خپل حق څخه کمې ښیي.
د ایران د سیستان او بلوچستان ولایت د چاپېریال ساتنې ادارې د چارواکو په وینا، اوسمهال هلمند سیند په ایران کې د کال په اوږدو کې وچ وي او یوازې له فبروري تر اپرېل پورې یوه اندازه اوبه پکې بهېږي. د ساینس مجلې د یوې څېړنې له مخې، د ۲۰۱۷ کال په اکټوبر کې کله چې د مجلې څېړونکي له جریکه بند څخه لیدنه کوله، په سیند کې یو څاڅکی اوبه هم نه وې؛ د سیند په منځ کې ژېړ رېگونه او په غاړو یې د ونو وچې تنې ولاړې وې. د سیستان او بلوچستان ولایت د چارواکو په وینا، د دغه ولایت په دوو ښارونو زابل او زهک کې د څښاک پاکې اوبه له فرامرزي اوبو څخه تر لاسه کېږي او د هامون د وچېدو له کبله اوسمهال په دغو ښارونو کې د څښاک د پاکو اوبو ستونزه هم خورا جدي ده.
د سیستان او بلوچستان د چاپېریال ساتنې یوه چارواکې نیره پورمولایي وایي، که "نیمه څاه‌گان" هم وچ شي، ټول خلک به کډوالۍ ته اړ شي. څېړنې ښیي چې د هامون د وچېدو له کبله د ۴۰۰ زره سیستانیانو د معاش سرچینه بنده شوې او په دې سیمه کې بې کارې، بې‌وزلي، قاچاق او ناامني او د ایران شمال ته د زرگونو سیستانیانو پراخه کډوالي یې له ځان سره لرلې ده. د ایراني چارواکو په وینا، د هامون وضعیت د ۱۳۰ زره سیستانیانو د کډوالۍ لامل شوی او دا د ایران ملي امنیت ته گواښ دی. داسې اټکل کېږي چې ایران به تر ۲۰۲۵ کال پورې د اوبو د ناسم مدیریت، د نفوس زیاتوالي او وچکالۍ له کبله د اوبو له جدي کمښت سره مخ شي.
ایرانی لوری د هامون وچېدل په هغه څه پورې تړي، چې د دغه سیند په لوړه برخه (افغانستان) کې تر سره کېږي. د بېلگې په توگه، لامل یې په ۱۹۵۰مو کلونو کې د کجکي بند جوړېدل او په ۱۹۹۰یمو کلونو کې د اوبو لگونې د کانالونو ایستل بولي او ترڅنگ یې ادعا لري، چې اوسمهال د هامون د وچېدو یو بنسټیز لامل د کوکنارو د کرونډو لپاره د هلمند سیند د اوبو گرځول دي؛ کوم څه چې افغان لوری ردوي او ټینگار کوي چې عملا له تېرو ۴۰ کلونو راهیسې په سرحدي سیمو کې هېڅ ډول پراختیایي کار نه دی شوی.
د افغان لوري نظر بیا دا دی چې که څه هم د ۱۹۹۰یمې لسیزې په وروستیو کلونو کې د ورښتونو له کمېدو او وچکالۍ سره هامون ته د هلمند سیند ورتلونکې اوبه کمې شوې؛ خو بیا هم ایران ته له تړون سره سمې اوبه ورکړل شوې او د هامون د ډېرو برخو د وچېدو اساسي لاملونه د ایران لخوا د اوبو ناسم مدیریت، په سوېلي خراسان او رضوي خراسان ولایتونو کې د بېلابېلو بندونو جوړول، د لولې له لارې د سیستان او بلوچستان ولایت مرکز زاهدان ښار او نورو ښارونو ته د اوبو لېږد، د زابل په څاه‌گانو (سترو ډنډونو) کې د اوبو زېرمه کول او په زابل کې د کرنیزو موخو لپاره د هامون د اوبو کارول دي.
دا چې افغان لوری ردوي، چې ایران ته د اوبو د حق نه ورکولو له کبله هامون وچ شوی او لامل یې د ورښتونو د کچې بې‌مخینې کمېدل، د تودوخې زیاتوالی، اقلیمي بدلونونه، د اوبو زیاته کارونه او د ایران لخوا د اوبو ناسم مدیریت بولي؛ او په بل اړخ کې ایرانی اړخ بیا پړه پر افغانستان اچوي او پرله پسې ټینگار لري، چې افغانستان د هلمند سیند د اوبو حق نه ورکوي؛ ځکه نو د هامون د وچېدو لاملونه هم د څېړنو پر ځای د تورونو په کچه کې دي. که څه هم ایران او افغانستان د دغو لاملونو د بشپړ څېړلو هوډ هم کړی، چې د هریرود سیند قضیه به هم پکې شامله وي، مگر تر اوسه عملا دا کار نه دی شوی او دواړه لوري پر تورونو، گواښونو او سیاسي فشارونو تکیه کوي.
د هامون د وچېدو ستونزې د هوارې لپاره ځینې نړیوالې ادارې هم خپلې حللارې وړاندې کوي. د ملگرو ملتونو د پراختیایي ادارې (UNDP) د «واپس کولو» د طرحې له مخې، د دواړو هېوادونو لخوا هامون ته د اوبو ورکولو لپاره که د هلمند له اوبو د کرنیزو موخو لپاره لږ اوبه ولېږدول شي او له بلې خوا د کال په وچو میاشتو کې د (نیمه څاه‌گانو) له زېرمو څخه هامون ته یو څه اوبه ولېږدول شي او ترڅنگ یې دواړه هېوادونه له قطره‌اي اوبو لگونې کار واخلي او د هغو محصولاتو کرلو ته خلک وهڅوي، چې کمې اوبه غواړي، ښایي د هامون د وچېدو ستونزه هواره شي. افغان لوری په دې تړاو وایي چې له شوي تړون سره سم له ایران سره گډ کار ته چمتو دی؛ خو په دې اړه تر اوسه عملي گامونه نه دي اوچت شوي.
**دوام لري...**

# ملگري ملتونه: بوکوحرام ډلې د نایجیریا په شمال کې ۱۱۰ کسان وژلي دي



ملگري ملتونه وایي چې د بوکو حرام ډلې جنگیالیو د نایجریا په شمال کې د شولو پر کروندو برید کړی او نږدې ۱۱۰ کسان یې وژلي دي. په نایجیریا کې د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر مشر اېډوارډ کالون ویلي چې د وژل شویو له ډلې اکثریت یې بزرگران دي.
یادې ادارې په پیل کې دا شمېرې ۴۳، بیا ۷۰ او وروستی ځل یې ۱۱۰ ښودلې او په خبره یې، په یادو بریدونو کې گڼ نور کسان ټپیان شوي هم دي. د سرچینې په خبره، دا بریدونه د روانې اونۍ له شنبې ورځې راهیسې په کوشوبه سیمه شوي دي.
په ورته مهال د یادې سیمې د خلکو د مدافع ځواکونو مشر باباکورا کولو د فرانسې خبري اژانس ته ویلي چې بوکوحرام ډلې لسگونه نور کسان له ځانه سره بیولي هم دي. د نوموړي په خبره، برید هغه مهال شوی چې بزرگران په خپلو کروندو کې بوخت وو.
بلخوا د یاد هېواد د برونو ایالت چارواکو ویلي چې سخت دریځو یوازې د شنبې په ورځ ۴۳ بزگران په میدوگوري ښار کې وژلي دي. د دوی په خبره، په نورو سیمو کې ۶۷نورو کسانو سرونه هم پرې کړای شوي دي.
د برونو ایالت والي د دغو کسانو د جنازې په مراسمو کې ویلي چې دغه شمېرې د لومړنیو معلوماتو په اساس برابرې شوي او ښایي چې د وژل شویو کسانو شمېر به له هغه څه زیات وي، چې رپوټونه یې ورکړل شوي دي.
د یادونې ده چې د بوکوحرام ډلې سخت دریځو تېره میاشت هم ۲۲ بزگران د دوو بریدونو په ترڅ کې وژلي وو. بوکوحرام په نایجریا کې بزگران، شپانه او کب نیوونکي په پرله پسې توگه پوځ او محلي ملېشو ته په جاسوسۍ تورنوي او پرې بریدونه کوي. له ۲۰۰۹ ز کال راهیسې د نایجریا په شخړو کې لږ تر لږه ۳۶ زره کسان وژل شوي او شاوخوا دوه میلیونه نور بېځایه شوي دي.
د ملگرو ملتونو په گډون، گڼو هېوادونو او د بشري حقونو نړیوالو مدافع بنسټونو د بوکوحرام ډلې دا بریدونه غندلي او د نایجیریا له حکومته یې غوښتي چې د پېښې عاملینو ته دې سخته سزا ورکړي.


## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادیتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه

**د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک**




دورانی: زه موافق یم. کله چې موږ دغه ډیالوگ پیل کړ، گڼې ترسره شوې ناستې هیله بښوونکې وې. یعنې کوم جدي کړکېچ نه و. زه حتی په دې اندېښمن وم چې موږ ولې پر ځینو پاروونکو مسایلو کافي بحث ونه کړ. خو ځارگر یا استخباراتي خلک پوهېږي چې څنگه مخ ته لاړ شي. یو مسلکي کس پوهېږي چې پوخوالی، د سړې سینې تحلیل او یو بل ته د ملامتۍ گوته نه نیول څه مانا لري. وروسته، نه یوازې په دې ډیالوگ بلکې د دویم پړاو خبرو په یوه بله ناسته کې هم وضعیت ته په کتو غونډه متفاوته کېدای شي، په ځانگړې توگه په کشمیر کې. همدې ته په کتو زموږ یو همکار اړ شو چې پر بحث د ښه تمرکز لپاره د موضوع پر شالید رڼا واچوي. د پرېزنټېشن لامل همدا و. که په اوس وخت کې هم چېرته گرم بحثونه تبادله شوي دي، نو لامل یې د کشمیر ناوړه وضعیت و. دا وضعیت به داسې پایلې وزېږوي چې نه یوازې کشمیر بلکې د هند او پاکستان اړیکې به هم زیانمنې کړي، بې له دې چې موږ څه غواړو. نو په دې توگه ځینې تونډ او دفاعي دریځونه صحنې ته راځي.

دولت: د جنرال صیب به په یاد وي کله چې موږ د ۲۰۱٦ کال په سپټمبر کې ولیدل، د بحث او گیلو لپاره ډېر مسایل وو. په کشمیر کې هغه وخت ښه گرمي وه. جولای، اگست، سپټمبر او اکتوبر ډېرې گرمې او خرابې میاشتې وې. موږ په سپټمبر کې هم له کړکېچ سره مخ وو. تاسو قانوني حق درلود چې پوښتنه وکړئ چې موږ څه کول. په کشمیر کې حاضر دمه کراري ده، خو دا کراري د ژمي په موسم کې وي. د دې لامل چې دغه موضوع څنگه گرمېږي، په پاکستان کې دا باور په پخېدو دی چې تر هغې چې مودي د هند لومړی وزیر وي، هېڅ پېښه به ونه شي.

دورانی: زما نظر متفاوت دی. د ۲۰۱٦ کال په سپټمبر کې چې څه پېښ نه شول، پاکستان نه غوښتل. اوس کومه جدي مسئله نه شته، خو هدفي وژنې او عملیات شوي دي، چې دې کار د دواړو ترمنځ فضا تر پخوا خړه پړه کړې ده. په پاکستان کې اندېښنه دا ده چې دا ډول پېښې کېدای شي چې یو ځل بیا اور تازه کړي. که موږ پرې ځان غلی هم کړو، نو ښایي په دې ډول هدفي وژنو کې زیاتوالی راشي. ښایي همدا لامل وي چې زموږ خلک لکه څرنگه چې هندي ملگرو یې تمه کوله، ارام او ساړه پاتې نه شول.

دولت: هغوی ښه ارام وو، ښاغلیه. هېڅوک نه دې پارېدلي. خو دا ځل مو کشمیر له تصوره پورته گڼلی و. کشمیر تل هلته و، هېڅکله چېرته نه دی تللی. په کشمیر کې داسې وخت هم راځي چې وضعیت نورمال او سوړ وي، خو دا استثناءات دي. له همدې لامله ما تل دا خبره کړې، نه یوازې پاکستاني ملگرو بلکې هندي ملگرو ته مې هم ویلي چې موږ ولې په دې ځان نه پوهوو چې کشمیر اساسي مسئله ده؟ راځئ چې د کشمیر په اړه وغږېږو. په کشمیر کې څه دي چې موږ ترې ډار لرو او شرمېږو؟

دورانی: مثلاً، ستا هغه همکاران چې اوس په کور ناست دي، هغوی څنگه؟

دولت: که ډیپلوماټان په دې ډله کې شاملوې نو، اوه زما خدایه، مه یې یادوه. دغه کسان پوهېږي. یو امتیاز دا دی چې ډیپلومات ساهای او سېنگ دواړو په کشمیر کې کار کړی دی. ښایي هغوی له ما سره موافق نه وي، خو په غونډو کې په دې ټینگار کوي چې د کشمیر په اړه خبرو ته اړتیا ده.

سېنها: ښاغلی دولت، تاسو په دې وروستیو کې په لندن کې په یوه پروگرام کې گډون کړی و چې د ISI یو پخوانی مشر احسان الحق هم حاضر و، پروگرام څنگه و؟

دولت: ډېر په زړه پورې و. هلته د «راتلونکې لپاره د سوېلي اسیا فورم» تر نامه لاندې یو فکري بنسټ دی چې مشري یې عامر گوري کوي. نوموړي راته شپږ میاشتې مخکې زنگ وهلی و او غوښتنه یې رانه وکړه چې که لندن ته ورشم او په غونډه کې خبرې وکړم. ما وویل سمه ده زه چمتو یم چې لندن ته درشم، خو خبرې له چا سره؟ هغه وویل چې ایا له جنرال اسد دورانی سره جوړ یې؟ ما وویل، ښځې، تر دې بل ښه کس نه شته. خو وروسته یې بیا احوال راکړ چې جنرال احساس به درسره په بحث کې وي. ما وویل، سمه ده. پروگرام د اکتوبر پر شپاړسمه په (London School of Economics) کې ترسره شو. تالار چې د ۳۰۰ کسانو ظرفیت یې درلود، ډک شو: محصلین، کارکوونکي، اکاډمیک شخصیتونه، ژورنالېستان او ډیپلوماټان غونډې ته راغلي وو. نوموړي تر پروگرام مخکې د شپې ډوډۍ ته ور وبللو، ما هم ورسره ومنله او ومې ویل چې زه او احسان صیب یو ځای کېنو چې له یو بل سره له نږدې خبرې وکړو. د بحث موضوع یې راته استخباراتي همکاري په گوته کړې. د پروگرام عنوان داسې و «ایا استخبارات کوم ښه کار ترسره کولای شي؟» یا «ایا استخبارات ښه دي؟» خو احسان غوښتل چې د هند او پاکستان پر اړیکو بحث وشي. هغه وویل چې زموږ اړیکې اویا کلنه مخینه لري اړتیا ده چې په دې اړه خبرې وکړو. کشمیر هم د نوموړي په ذهن کې و. ما وویل، ښاغلیه موضوع استخباراتي مسایل دي. هغه وویل، نه، نه، نه په دې اړه ډېرې خبرې شوې دي، هند-پاکستان-کشمیر. هغه وویل، سمه ده که خپه کېږې نه، لومړی به زه خبرې وکړم. ما وویل، سمه ده لومړی تاسو خبرې وکړئ او بیا به زه ستاسو په خبرو خپلې څرگندونې ولرم.

**دوام لري...**

# آلیس ان مونرو

شفیق امیرزی



آلیس ان مونرو د ۱۹۳۱کال د جولای په ۱۰مه په کاناډا کې زیږېدلې ده. پلار یې بزگر و او مور یې بیا ښوونکې وه. هغې لیکوالي له تنکۍ ځوانۍ پیل کړه. لومړنۍ لنډه کیسه یې په ۱۹۵۰ کال کې هغه مهال خپره کړه چې لا په وسترن اونټاریو پوهنتون کې محصله وه. دا کیسه د یوه سیوري ابعاد نومېده. مونرو له لومړي سره له لیکوالۍ سره مینه لرله، خو دغه برخه یې ځان ته د مسلک په توگه نه وه انتخاب کړې. مخکې تر دې چې لیکوالي د یوه مسلک په توگه انتخاب کړي، له وړو دندو او خدماتو له تر سره کولو بیا په کروندو کې تر کار پورې په همدې چارو بوخته وه. هغه د تنباکو په کروندو کې هم کار کړی دی. سره له دې هغې په ۱۹۵۱ کال کې پوهنتون پرېښود او غوښتل یې واده وکړي. په ۱۹٦۳ کال کې یې ویکتوریا ته کډه وکړه. همدلته یې یو کتابپلورنځی پرانیست چې (مونرو کتاب) نومېده. دا کتابپلورنځی اوس هم فعال دی او کتابونه پکې پلورل کېږي.

مونرو د ساده او په زړه پورو لیکنو له امله مشهوره ده. هغه ساده، له خاطرو ډک او د ورځني ژوند په اړه لیکل کوي. هغې په خپلو لومړنیو داستانونو کې د نجونو پر ژوند تمرکز کړی دی. تر ډېره یې د بلوغ او له کورنۍ سره د اړیکو پر مسئله خبرې کړې دي او داستانونه یې پر همدې موضوع راڅرخي. په لومړي سر کې چې ځوانه ده نو تمرکز یې د ځوانۍ پر موضوعاتو وي، خو وروسته یې چې څومره عمر ډېرېږي او سن یې لوړېږي، بیا یې همدومره تمرکز د مېرمنو پر ژوند او مسوولیتونو ډېرېږي. د مونرو د زیږېدنې ځای د وینگم کوچنی ښار دی او د داستانونو منظرې او انځورونه یې له همدې ښار جوړ دي. ډېری داستانونه یې په همدې ښار کې رامنځ ته کېږي او هغه یې د دې ښار له پېښنو لارو او کوڅو سره تړي. داستانونه یې ارام بهیر لري، ورو ورو مخ ته ځي، خو تر دې آرامه سطحه لاندې یوه حیرانوونکې پېښه رامنځ ته کېدونکې وي. همداسې ورو ورو مخ ته ځي، ورو غوټه سپړل کېږي، د کیسې په اوږدو کې له ټولو رازونو پرده پورته کوي، رازونه پرانیزي او غوټې پرانیزي چې په همدې سره لوستونکی حیرانوي او په پای کې هر څه ورته عجیب وي. هغه خپل مضامین د خلکو له ورځني ژوند انتخابوي. هغه د ښځینه ژوند مسایلو او جزیاتو ته یې ځانگړې لیدلوری لري. مخکې مو هم وویل چې په لومړي سر کې یې د پېغلو د ژوند مسایل را اخیستل، خو وروسته وروسته یې د کارونو لمن پراخه شوه او پر نورو مسایلو یې هم تمرکز وکړ. خاطرې او تېر یادونه یې په داستانونو کې ځانگړی ځای او اهمیت لري. خپل شخصیتونه پېژني، د ژوند په اړه یې فکر کوي او تمرکز ورباندې لري. له ډیالوگونو یا مکالمو په پوره مهارت استفاده کوي. د دې برخې په کارولو کې ماهره ده او ډیالگونه یې هم په زړه پورې وي. په بیان کې یې صداقت، د ژبې شفافیت، روان کلمات، دقت، په جزیاتو کې ډېر تمرکز او دې ته ورته نور هغه موارد دي چې داستانونه یې له نورو لیکوالانو او ادب لارویانو ځانگړې شوي دي.

د کاناډا یو مشهور لیکوال مارگارت آتوود، آلیس مونرو د ادبیاتو په برخه کې یوه نه تکرارېدونکې څېره بولي. هغه وایي چې مونرو د ادبیاتو په نړۍ کې یوه سپېڅلتیا ده. داسې یو څوک ده چې باید په اثارو کې یې لاسوهنه او اضافات را نه شي. لیکوالان او نقادان په دې باور دي چې هغه یو ځانگړی او په زړ پورې سبک لري. د دوی په خبره، د مونرو سبک ساده، بې تکلفه او روان دی. دوی یې مناسب او ساده ډیالوگونه هم ستایي. د هغې د داستان یوه بله مهمه ځانگړنه دا ده، چې د پېښې پر ځای او شخصیتونو ډېر تمرکز کوي. تر ډېره د ښځینه وو پر شخصیت تمرکز لري، په تېره بیا پر پېچلو شخصیتونو او داسې کرکټرونو چې د دوی ژوند له ډېرو کشمکشونو او نانډریو ډک وي. د نوموړې اثار تر ډېره د ادبیاتو له مخکښانو او سترو شخصیتونو سره پرتله شوي دي. د نوموړې په اړه وایي چې اثار یې د چخوف د اثارو په څېر د دویمه درجه داستاني خط له امله ځانگړې ارزښت لري. داسې دې چې تقریبا په داستان کې کومه ځانگړې پېښه نه کېږي، خو د کیسې په دوام هرڅه دومره حیرانوونکې وي چې لوستونکی هک پک کړي. مونرو یوازې د نوبل گټونکې نه ده؛ بلکې تر هغه وړاندې یې هم په ادبي برخه کې په کاناډا کې جایزې گټلې دي. خو نورې نړۍ بیا د نوبل تر گټلو وروسته لا ډېره وپېژندله. مونرو د تریلیوم په نامه یوه جایزه گټلې ده، دا جایزه یې د (گران ژوند) کتاب گټلې وه. د دې جایزې تر گټلو وروسته یې یو ځل وویل چې د لیکوالۍ له نړۍ سره به نور مخه ښه وکړي. هغې وویل: «داسې نه ده چې له لیکوالۍ سره مې مینه نشته، خو زه حس کوم چې انسان په خپل ژوند کې یوې بلې مرحلې ته رسېږي، داسې مرحلې ته چې حس کوي نور باید ژوند ته له بلې زاویې وگوري. که زما د اوسني ژوند او عمر مودې ته را ورسېږی، ښایي زړه مو و نه غواړي چې دومره یوازې شی، دومره لکه یو لیکوال چې یوازې وي. په همدې وخت کې حس کوي چې ژوند دې ښه نه دی روان او باید لا ډېر اجتماعي وې، لا ډېر له خلکو سره راشه درشه ولرې او لا ډېر خلک وپېژنې)). مونرو د خپلې لیکوالۍ په اړه وایي: ((مخکې له دې چې د یوه داستان لیکل پیل کړم، ښه ډېر هغه په ذهن کې جوړوم. له کرکټرونو سره یې ناسته ولاړه کوم، په ذهن کې مې ډېرې خبرې ورسره کوم، دوی ټول منظوم او کله چې داستان لیکم، دوی داسې وي لکه په ذهن کې مې چې کومه نظامي ننداره تر سره کوي یا کتار کتار په نظامي پرېټ روان وي. کله کله داسې هم کېږي چې همداسې ناسته وم، له کرکټرونو سره خبرې کوم او له ځان سره یې سوچونو کې ډوب کړې وم. بیا قلم را اخلم او همدا ټولې صحنې لیکم. زه څو څو کتابچې لرم چې له همداسې گډوډو ذهني انځورونو ډکې دي. کله کله چې دې لومړنۍ نسخې ته وگورم، وایم دا کارونه دومره گټور هم نه دي. پوهېږی زه له هغو لیکوالانو نه یم، چې ډېر چټک دي، په چټکۍ لیکل کوي او بس همدې لیکوالۍ ته یې اړولې وي)).

د مونرو ډېر داستانونه د لومړي ځل لپاره په نیویارکر نشریه کې چاپېدل. دا د ادبیاتو او نورو لیکنو د خپراوي په برخه کې مشهوره نشریه وه. په نیویارکر کې د مونرو وروستی چاپ شوی داستان آموندسن نومېده. دا داستان په ۲۰۱۲ کال کې چاپ شو. د خوشاله سیورې گډا، د نجونو او ښځو ژوند، ښکاره رازونه، زما د ځوانۍ ملگرې، ته فکر کوي چې څوک یې؟ او تېښته د مونرو مشهور چاپ شوي او خپاره شوي داستاني اثار دي. نوموړې په خپل ژوند کې د داستانونو ۱۴ مجموعې او څلور ټوکه منتخب داستانونه چاپ کړي دي.

د مونرو داستانونه په ډېرو ځانگړو جملو پیلېږي. تاسې موضوعات په خپله نه درک کوی، بلکې د کیسې کرکټرونه یې د درک زمینه درته برابروي. ورو ورو د داستان په دوام په ډېر څه پوهېږی. لیکوالان او نقادان وایي، د دې سترې لیکوالې اثار او کیسې په مخکینیو داستاني طرحو پورې اړه نه لري، بلکې د کرکټرونو بڼې او چار چلند دی چې په ډېر څه مو پوهوي. یوه ځانگړې محرکه قوه لري چې تاسې له ځان سره ساتي. کرکټرونه یې ډېر په زړه پورې وي، دومره حقیقتونو ته نږدې وي چې تاسې یې احساسولی شی. د کرکټرونو په انځور او وړاندې کولو کې له ځانگړې هنر برخمنه ده. کله کله داسې هم کېږي چې تاسې پخپله خپل ځان د کرکټرونو پر ځای تصور کولی شی، لامل یې دا دی چې هر څه حقیقت ته ډېر نږدې دي. مونرو ته د لنډو کیسو د نړۍ ملکه وایي. ډېری لیکوالان په دې باور دي چې د مونرو د لیکوالۍ بڼې ډېر نور خلک هم لیکوالۍ ته هڅولي دي. هغې د خپلې لیکوالۍ په لومړیو کې دا راز پیدا کړ چې خپلې تجربې او له حقیقت په استفادې ښې کیسې پنځولی شي. هغه د واقیعي ژوند په ارزښت پوه وه او همدا ژوند یې په کیسو کې انځوراوه. هغې د خپلو اثارو د لیکلو لپاره خپله شاوخوا نړۍ کتله. هر څه ته به ځیر وه، هر څه یې په څکو غوږونو اورېدل، په پوره حیرانتیا یې د سترو لیکوالانو لکه چخوف، جیمز جویس او نورو اثار لوستل.

د نړۍ د ادبیاتو د مطالعې په برخه کې فعال لیکوالان او څېړونکي وایي چې آلیس مونرو د ادبي پدیدو له اړخه له جین آستین سره د پرتلې وړ ده. کنایې، له غیر مستقیمو لارو د مفاهمو رسول او دې ته ورته عادتونه مخکې له دې چې د نوموړې په کرکټرونو او داستانونو کې راشي، د هغې په خپل شخصیت کې هم شته. مونرو تل وایي، هغه لیکواله ده، خو وایي چې د پخواني او زاړه سبک لرونکې ده. په دې مانا چې هغه ځان ته د زاړه سبک لرونکې لیکواله وایي. نوموړې وایي، دا داسې لیکواله ده چې کلیوالي نړۍ ورته ښکلې وه، د هغه کلیوالي د نړۍ په اړه لیکل کوي چې په چټکۍ د بدلون په حال کې ده. مونرو وایي، که نړۍ د چټک بدلون په حال کې ده، خو د انسانانو اصلیت او بنیات په خپل حال دی. دوی اوس هم هغه څه غواړي چې پخوا وو، دوی له نوې نړۍ سره د راحتۍ او هوساینې احساس نه کوي. داستان ته د مونرو د لید زاویه یوازې په همدې وړو خبرو پورې نه محدودېږي؛ بلکې ډېرو خبرو او څېړنو ته اړتیا لري.

آلیس مونرو په ظاهري توگه هم وړه او ارامه ده. دومره چټکه نه ده، په لیکوالۍ کې یې چټکوالی او ډېرې منډې منډې نه خوښېږي. شخصیت یې ارام او دوستانه دی. هغه په قصدي توگه له هغو مسایلو ځان لرې ساتي چې ځینې لیکوالان روښانفکري ورته وایي یا خپل اصطلاحات یې ورته وضع کړي دي. د هغې نورمال ژوند خوښېږي او له جنجالونو لرې ده. په قصدي توگه ځان له بحثونو او بحث پاروونکو مسایلو لرې ساتي. هغه تر ډېره عملگرا ده، په دې مانا چې تر خبرو یې کار خوښېږي. همدا چې څو شېبې ورسره کېنی، د هغه هوښیارانه حضور ته به مو پام شي. د نوموړې همدا ځیرکتیا د دې سبب شوې چې تجربې یې ډېرې شي او له دې تجربو په خپله لیکوالۍ کې گټه واخلي. ډېر کم شیان به وي چې د مونرو په چاپېریال کې د هغه له تحلیل او سترگو پټ پاتې شي. هغه د انسان ډېرو بنسټیزو پوښتنو ته د یوه ارام فیلسوف په توگه له فکر او علمي استدلال ډک ځواب ورکوي.

په ۲۰۱۳کال کې د نوبل بنسټ د مونرو د اثارو ښېگڼې ته په کتو د ادبیاتو په برخه کې د نوبل جایزه ورکړه. هغه د نړۍ په تاریخ کې دیارلسمه ښځه وه چې د نوبل جایزه یې وگټله. هغه مهال یې ۸۲ کاله عمر درلود. د نوبل اکاډمۍ وویل چې هغه د داستان لیکلو په برخه کې خپل ځانگړی سبک او هنر لري. هغه ظرافت ته پام کوي، دقت لري او واقعیتونو ته له نږدې گوري. د نوبل بنسټ هغه مهال ویلي وو: «ځینې لیکوالان هغه د کاناډا چخوف بولي». هغه لومړنۍ کاناډایۍ ده چې دا جایزه گټې. د نوبل کمېټې هغې ته همدا راز د معاصرې لنډې کیسې د استادې لقب هم ورکړی دی. آلیس مونرو لا هم لیکل کوي، لا هم غواړي د خلکو تجربې ولېږدوي. لا هم لگیا ده او هڅه کوي چې د خپلې زړې نړۍ خاطرې له نوي جهان سره وتړي او تر خلکو یې ورسوي. هغه لا هم د نړیوالو له لوري ستایل کېږي او ادبي کارونه یې ډېر مینه وال لري.

# د مذاکراتو ټکنۍ بهیر او تازه تورونه؛

## ارگ هغه تورونه رد کړي چې گواکې ولسمشر په مذاکراتو کې خنډونه جوړوي



پر افغان حکومت د سولې په برخه کې د خنډونو جوړولو په تړاو د نیوکو پر دوام، دا ځل نیویارک ټایمز ورځپاڼې ته خپلو باوري سرچینو ویلي چې ولسمشر غني او ځینې نږدې کسان یې د سولې په برخه کې خنډونه جوړوي. تر دې وړاندې هم ځینو سرچینو رسنیو ته ویلي وو چې د سولې پر تګلاره توافق شوی، خو ولسمشر غني یې مخالفت کوي. له دې سره جوخت د ولسمشر غني ویاند بیا د نیویارک ټایمز دغه راپور بې بنسټه بللی او په خبره یې، ولسمشر د سولې پروسې مبتکر او ملاتړی دی.

سره له دې چې په دوحه کې د بین الافغاني خبرو له پیل څه باندې دوې میاشتې اوړي، خو لا هم داسې تورونه شته چې گواکې په حکومت کې ځینې کسان د دغه ځنډ او د سولې په برخه کې د خنډونو جوړېدو لامل دي. تازه امریکایي ورځپاڼې نیویارک ټایمز ویلي چې ولسمشر غني او ډېر نږدې کسان یې د سولې په برخه کې په یو ډول نه یو ډول خنډونه جوړوي. سرچینې ویلي وو، چې ولسمشر او پلویان یې غواړي په لوی لاس د سولې پروسه وځنډېږي، نو له همدې امله له ځینو مواردو سره مخالفت کوي. دې ورځپاڼې ته سرچینو ویلي وو: ((ولسمشر او نږدې کسان یې ښایي یا د طالبانو د وروستیو تاوتریخوالي او جگړو په ځواب کې او یا هم په دې تمه چې گواکې جو بایډن به واک ته رسېږي او د ټرمپ پر پرېکړو به خاورې اړوي، په یو ډول نه یو ډول روانو مذاکراتو کې ځنډ راولي)).


خو افغان حکومت د نیویارک ټایمز ورځپاڼې پر دې راپور غبرگون ښودلی دی. د ولسمشر اشرف غني ویاند صدیق صدیقي پرون په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې ولسمشر غني د سولې د خبرو ملاتړی دی او په دې برخه کې خپلو هڅو ته ادامه ورکوي. د ده په خبره، د نیویارک ټایمز له لوري په دې نامه راپور خپرول چې گواکې ولسمشر د سولې په لار کې خنډونه جوړوي، ناسم او بې اساسه دی. د صدیقي په وینا: ((ځینې څرگندونې چې د نیویارک ټایمز ورځپاڼې په مطلب کې د معلومو او نامعلومو سرچینو له قوله راغلې، د توجیه وړ نه دي او بې اساسه ښکاري)).

د ولسمشر ویاند دغه راز وایي چې افغان حکومت سولې ته ژمن دی، په همدې موخه مذاکراتي پلاوی په دوحه کې دی. هغه وایي، سره له دې چې طالبانو پر خپلو ژمنو عمل نه دی کړی، تاوتریخوالی یې ډېر کړی، جگړې یې شدیدې کړې، خو بیا هم افغان حکومت سولې ته ژمن دی او په دې برخه کې به خپلو هڅو ته ادامه ورکوي. د صدیقي په خبره: ((مذاکرات یوازینۍ لار ده چې افغانستان ته دایمي سوله راولي. ولسمشر تل هڅه کړې چې په دې مذاکراتو کې تحرک رامنځ ته کړي. تل یې د سولې په برخه کې مثبتې هڅې په ښه توگه رهبري کړې دي. ټول هغه خنډونه یې له منځه وړي چې د مذاکراتو د پیل په لار کې موجود وو)).

صدیقي همدا راز پر طالبانو نیوکه کوي او په خبره یې، سره له دې چې افغان حکومت د دوی زرگونه بندیان خوشې کړل، خو بیا هم دې ډلې پر خپلو ژمنو عمل نه دی کړی او پر گڼو ښارونو یې خونړي بریدونه کړي دي. صدیقي د سولې د هوکړې په اړه هم ویلي چې د مذاکراتو د کړنلارې پر ۲۱ مادو توافق شوی، خو په مقدمه کې ځینې مسایل دي چې بحث ته اړتیا لري او د دواړو لورو ترمنځ د بحث او خبرو په پایله کې به دا موارد هم حل شي.

بلخوا وسله وال طالبانو بیا په تازه څرگندونو کې ویلي چې د دوی له لوري د مذاکراتو په برخه کې هېڅ راز ستونزه نشته، خو د حکومتي لوري ترمنځ نه همغږي په مذاکراتو کې د ځنډ لامل ده. د طالبانو د قطر دفتر د فرهنگي کمېسیون مرستیال احمد الله وثیق وایي، دوی ټول خنډونه لرې کړي، خو د حکومتي پلاوي ترمنځ نه همغږي د خنډونو او ځنډ لامل ده.

## ستولټنبرگ: له افغانستانه د ځواکونو ایستل او پاتې کېدل، دواړه درنه بیه غواړي




د ناټو عمومي منشي ینس ستولټنبرگ د امریکا له نوي منتخب ولسمشر جوبایډن سره د افغانستان د وضعیت په تړاو ټلیفوني خبرې کړې دي.

ستولټنبرگ ویلي: «د امریکا له نوي ولسمشر سره مې د افغانستان د وضعیت په تړاو ټلیفوني خبرې وکړې، نوموړي (بایډن) ته مې وویل چې په افغانستان کې زموږ پاتې کېدل او یا له دغه هېواده وتل، دواړه درنه بیه غواړي. د پاتې کېدو بیه، په افغانستان کې زموږ دایمي حضور او د وتلو بیه زموږ د لاسته راوړنو له گواښ سره مخ کېدل دي».

نوموړي زیاته کړې چې د ناټو سازمان د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران به هم روانه اونۍ په بروکسل کې د افغانستان په اړه بحث وکړي.

ستولټنبرگ د افغانستان د سولې روانه پروسه یو تاریخي فرصت بللی، خو په خبره یې، که له دغه فرصت سمه گټه پورته نه شي، ښایي دا پروسه له ناکامۍ سره مخ شي. نوموړي له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتلو ته په اشارې ویلي، چې امریکایي پوځیان کم شوي، خو موږ له اروپایي ټولنې سره په گډه په دغه هېواد کې خپل ماموریت ته دوام ورکوو.

نوموړي ټینگار کړی چې نه غواړي په افغانستان کې د تل لپاره پاتې شي، خو په خبره یې، د یاد هېواد وضعیت ته په کتو تر اوسه د ټولو ځواکونو د ایستلو وخت نه دی رارسېدلی.

هغه زیاته کړې چې ناټو اوسمهال په افغانستان کې ۱۱ زره پوځیان لري چې د افغان امنیتي ځواکونو په روزنه او دوی ته په سلا او مشورو ورکولو بوخت دي.

نوموړي ویلي چې په افغانستان کې د ثبات لپاره تر ټولو غوره لاره دا ده چې افغان ځواکونه وروزل شي او په ښه ډول تجهیز شي.

## د ملي امنیت رییس په گډون، شپږو نوماند وزیرانو له ولسي جرگې د باور رایې تر لاسه کړې



ولسي جرگې شپږو نوماند وزیرانو او د ملي امنیت ریاست نوماند ته د باور رایې ورکړې، خو د اطلاعاتو او فرهنگ او ښځو چارو وزارتونو نوماندان یې رد کړل.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني د روان کال د تلې په ۳۰ مه، ۲۲ نوماند وزیران او د دوو خپلواکو ریاستونو نوماندان د باور رایې اخیستو لپاره ولسي جرگې ته معرفي کړل چې له دې ډلې لس کسانو تېره اونۍ له ولسي جرگې څخه د باور رایه ترلاسه کړه.

د کرنې او مالدارۍ وزارت نوماند انورالحق احدي، د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت نوماند طاهر زهیر، د ښارجوړونې او ځمکو وزارت نوماند محمود کرزي، د ښځو چارو وزارت نوماندې حسینې صافۍ، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت نوماند نورالرحمن اخلاقي، د ترانسپورت وزارت نوماند قدرت الله ذکي، د ټولگټو وزارت نوماند نجیب الله یمین، د کانونو او پټرولیم وزارت نوماند محمد هارون چخانسوري او د ملي امنیت د عمومي ریاست نوماند احمدضیاء سراج ورمه ورځ او مخکې اونۍ خپل کاري پروگرامونه ولسي جرگې ته وړاندې کړل.

ولسي جرگې پرون یادو نهه نوماندانو ته د رایو صندوقونه کېښودل.

په ټوله کې تېره ورځ د ولسي جرگې ۲۴۴ غړو نوماند وزیرانو ته د رایې ورکولو په بهیر کې گډون کړی و او هر نوماند باید د بریالیتوب لپاره ۱۲۳ رایې ترلاسه کړې وای.

له یادو نهو نوماندانو اوو کسانو د ولسي جرگې د باور رایه ترلاسه کړه، خو د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت نوماند طاهر زهیر او د ښځو چارو وزارت نومانده حسینه صافۍ ونه توانېدل چې د ولسي جرگې د باور رایه ترلاسه کړي.

د باور رایې ورکولو بهیر په پای کې احمد ضیاء سراج د ۲۲۰ باور رایو په ترلاسه کولو د ملي امنیت د رییس، انورالحق احدي د ۱۸۹ باور رایو په ترلاسه کولو د کرنې او مالدارۍ د وزیر او محمود کرزی د ۱۵۴ باور رایو په ترلاسه کولو د ښار جوړونې او ځمکو د وزیر په توگه وټاکل شول.

دغه راز نورالرحمن اخلاقي د ۱۵٦ باور رایو په ترلاسه کولو د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو، قدرت الله ذکي د ۱٦۵ باور رایو په ترلاسه کولو د ترانسپورت، نجیب الله یمین د ۱۴۹ باور رایو په ترلاسه کولو د ټولگټو او محمد هارون چخانسوري د ۱۵۴ باور رایو په ترلاسه کولو د کانونو او پټرولیم د وزیرانو په توگه وټاکل شول.

خو طاهر زهیر د ۷۸ تایید رایو او حسینه صافۍ د ۱۱۹ تایید رایو په ترلاسه کولو ونه توانېدل چې د بریالیتوب لازمې رایې ترلاسه کړي. میر رحمان رحماني د ټاکنو د پایلو له اعلان وروسته له ولسمشر څخه وغوښتل چې د اطلاعاتو او فرهنگ او ښځو چارو وزارتونو لپاره نوي نوماند وزیران دې جرگې ته معرفي کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۱ |
| Rp. | ٤۸۰ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۱ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر لومړۍ |٦۳۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| ښار | لوړه | ټیټه |
|---|---|---|
| کابل | ۱۳ | ۲ |
| هرات | ۱٦ | ٤ |
| کندهار | ۱۵ | ۵ |
| بلخ | ۱۲ | ۲ |
| ننګرهار | ۲۳ | ۸ |
| خوست | ۱۲ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۳ | لمر ختل ۰٦:٤۰ | ماسپښین ۱۱:٤۳ | مازیګر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ


ملګري ملتونه: بوکوحرام ډلې د نایجیریا په شمال کې ۱۱۰ کسان وژلي دي
۳

## راپورونه: په پاکستان کې په دوو ترافیکي پېښو کې ۲۴ کسان مړه شوي او لسګونه نور ټپیان دي



د راپورونو له مخې، په پاکستان کې په دوو ترافیکي پېښو کې له شلو زیات کسان مړه شوي او لسګونه نور ټپیان دي.
د پاکستان د پنجاب ایالت پولیسو ویلي چې لږترلږه ۱۳ تنه هغه مهال مړه شول چې یو بس او مسافر وړونکي میني بس د دغه ایالت په مرکز د نارنګ منډي په سیمه کې ټکر وکړ.
چارواکي ویلي چې په دې پېښه کې شاوخوا شل تنه ټپیان شوي هم دي چې د ځینو روغتیایي حالت یې د اندېښنې وړ ښودل شوی دی.
بلخوا ورمه شپه د دغه هېواد په سند ایالت کې د مسافر وړونکي میني بس او پر خښتو بار د یوې لارۍ ترمنځ په ټکر کې یوولس تنه مړه شوي دي او اووه نور ټپیان شوي دي.
چارواکو ویلي چې دواړې پېښې د موټر چلوونکو د بې احتیاطۍ له کبله رامنځته شوي، خو د چارواکو په خبره، په دې تړاو یې نورې پلټنې هم پیل کړې دي.
د یادونې ده چې په پاکستان کې هر کال په زرګونو کسان په ټرافیکي پېښو کې مړه کېږي، چې خرابې لارې، زاړه موټرونه او د موټر چلوونکو له خوا ترافیکي مقرراتو ته نه پاملرنه د دغو پېښو اصلي لاملونه ګڼل کېږي.

## تازه شمېرې: په امریکا کې د کرونا مثبتې پېښې نږدې ۱۴ میلیونو ته رسېدلې دي


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ٦۳ میلیونو واوښتې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۴٦۷ زره او ۱۵۲ کسان مړه شوي او نږدې ۴۴ میلیونه تنه بېرته رغېدلي دي. د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۳ میلیونه او ۷۵۱ زره او ۳۳۷ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲۷۳ زره او ۱۰۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۴۳۳ زره او ۱۴۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۳۱۴ زره او ۷۴۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د دوه میلیونه او ۲۹۵ زره او ٦۵۴ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۲۱۸ زره او ۴۸۳ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. دغه راز هسپانیا، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او کولمبیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## یوسید: پس از تامین صلح، کمکهای ما با در نظرداشت اولویت‌های افغانها ادامه خواهد داشت

رئیس ادارهٔ انکشافی بین المللی امریکا در افغانستان یا (یو اس ای آی دی) می گوید که کمک های آنها پس از تامین صلح، با در نظرداشت اولویت های افغانها ادامه خواهد داد.
داکتر تینا دولی جونز رئیس ادارهٔ ذکر شده، این اظهارات را در مصاحبهٔ اختصاصی با آژانس خبری پژواک بیان کرده است.
وی ابتدا در مورد فعالیت های این اداره در افغانستان بحث کرد و گفت که در ۲۰ سال گذشته در بخش های مختلف فعالیت کرده است.
نامبرده افزود که آنها در عرصه های صحت، معارف، زنان و تقویه تاجران زن، تقویهٔ جامعه مدنی، بلند بردن سطح ظرفیت های ادارات دولتی و کارمندان، دموکراسی، انتخابات، پارلمان، سکتور برق، سکتور انرژی، زراعت، تجارت، اتاق تجارت و دهلیزهای هوایی کمک و همکاری کرده اند.
وی در پاسخ این سوال که آیا مطمئن است که کمک های شان بطور درست مصرف شده و در روند آن فساد صورت نگرفته است؟ گفت که آنها از پروژه های شان بطور دقیق بررسی نموده اند.
وی پذیرفت که در افغانستان فساد موجود است و در این خصوص، هر کسی بحث میکند؛ اما آنها همیشه تلاش کرده اند که پول مالیه دهندگان امریکا به شکل درست مصرف شود.
داکتر تینا گفت زمانیکه در روند کمک های آنان، از موجودیت فساد بحث میشود، آنها به زودی اقدام می نمایند و در خصوص آن تحقیقات جدی می کنند.


## ژوند

## تنفسي ناروغۍ او نښې یې



دا د ناروغیو یوه ډله ده چې ششونه او د تنفسي سیستم برخې پرې اخته کیږي. په دغه ګروپ کې ډېرې ناروغۍ شاملې دي چې له ډلې یې ساه لنډي، توبرکلوز، سي او پي ډي (د ششونو د بندښت مزمنې ناروغۍ) د ششونو فیبروزس، سینه و بغل، ستوني درد او د ششونو سرطان یادولی شو. دغه ګروپ ناروغۍ تنفسي سیستم ته د باکتریا (میکروبونو) د داخلېدو او همدارنګه د سګرېټ څکولو یا د بل چا د سګرېټ د لوګي د تنفس کولو او د هوا د ککړتیا څخه رامنځ ته کیږي. لوی عامل یې تنفسي سیستم ته د ګرد او غبار داخلېدل دي چې ورسره بېلابېل میکروبونه ششونو ته داخلیږي. کله چې ششونو ته داخلي شي، نو (Mast cell) حجرات یې په مقابل کې غبرګون ښیي او هستامین افرازوي، دا بیا په ششونو کې د التهاباتو رامنځ ته کېدو او د مایعاتو د افراز سبب کیږي او ورسره شخص ته نفس تنګي (ساه لنډي) رامنځ ته کیږي او همدارنګه په ششونو کې د بلغم د جوړېدو سبب کیږي.

## قهوه وزن کموي او که یې زیاتوي؟



دا د ناروغیو یوه ډله ده چې ششونه او د تنفسي سیستم برخې پرې اخته کیږي. په دغه ګروپ کې ډېرې ناروغۍ شاملې دي چې له ډلې یې ساه لنډي، توبرکلوز، سي او پي ډي (د ششونو د بندښت مزمنې ناروغۍ) د ششونو فیبروزس، سینه و بغل، ستوني درد او د ششونو سرطان یادولی شو. دغه ګروپ ناروغۍ تنفسي سیستم ته د باکتریا (میکروبونو) د داخلېدو او همدارنګه د سګرېټ څکولو یا د بل چا د سګرېټ د لوګي د تنفس کولو او د هوا د ککړتیا څخه رامنځ ته کیږي. لوی عامل یې تنفسي سیستم ته د ګرد او غبار داخلېدل دي چې ورسره بېلابېل میکروبونه ششونو ته داخلیږي. کله چې ششونو ته داخلي شي، نو (Mast cell) حجرات یې په مقابل کې غبرګون ښیي او هستامین افرازوي، دا بیا په ششونو کې د التهاباتو رامنځ ته کېدو او د مایعاتو د افراز سبب کیږي او ورسره شخص ته نفس تنګي (ساه لنډي) رامنځ ته کیږي او همدارنګه په ششونو کې د بلغم د جوړېدو سبب کیږي.

